مطبوعاتي اعلامیه

## د مصر د الکینانه خلکو او په فوځ کې د امت مخلصینو ته د ټرمپ پرېکړه هېڅ د منلو نه ده او دوی به ډېر ژر اقصی د یهودیانو له اشغاله وژغوري

د مصر د بهرنیو چارو وزیر په خپل رسمي ویب سایټ کې په یوې خپرې شوې اعلامیه کې د فلسطین په تړاو د ټرمپ د سولې پلان (د پېړۍ معامله) په اړه ویلي: «مصر د فلسطین په اړه د متحده ایالاتو د پلان په پام کې نیولو سره غواړي، چې د فلسطین خلکو ته د نړیوال مشروعیت او پرېکړو په چوکاټ کې په اشغال شوو سیمو کې د یو خپلواک دولت په رامنځته کولو سره باید ټول حقوق ورکړل شي.» په دغې اعلامیه کې د بهرنیو چارو وزیر دواړو لوریو ته په اشارې سره وویل: «دوی باید د امریکا تر څارنې لاندې د سولې ټینګښت او د خبرو اترو د بیا پیل په موخه د امریکا پلان په پام کې ونیسي.»

په دغې اعلامیه کې د مصر د بهرنیو چارو وزیر د فلسطین مسله یوازې په فلسطینیانو پورې اړونده بللې او له دواړو لوریو څخه یې غوښتي چې د ټرمپ پر دغه جنایتکارانه معاملې باندې ښه غور وکړي او ازادو خبرو اترو ته لاره پرانیزي؛ په داسې حال کې چې دی پوهېږي چې د فلسطین مسله د ټول اسلامي امت مسله ده. د شریعت له مخې دا هغه اسلامي خاوره ده، چې یهودو د غربي کافر او د اسلامي نړۍ د ظالمو واکمنانو په مرسته اشغال کړې ده. د فلسطین ازادول د ټول اسلامي امت مکلفیت دی؛ دوی باید دغه سپېڅلې خاوره د کرغېړنو یهودو له قدمونو څخه پاکه او پر اسلامي خاوره پورې یې پیوند کړي، ځکه دا یو واقعت دی او باید همداسې شي.

امت له اوسنیو مسلمانو واکمنانو، عربو او عجمو څخه مایوسه شوی دی او هم کومې ډلې یا حرکت ته هیله مندي نه ښیي؛ ځکه دوی یوازې د خپلو بادارانو په چوپړ کې دي او د غلامانو په څېر د ښکېلاکګر غرب هرې خبرې ته غاړه ایږدي او فکر کوي چې په دې ډول به خپلې څوکۍ خوندي کړي. هو، امت له اوسنیو واکمنانو څخه بېزاره شوی دی، ځکه دوی امت ته له سپکاوي او ذلت پرته بل څه نه دي ورکړي. امت په فوځ کې پر خپلو هغو مخلصو بچیانو باور لري، چې سپکاوي او ذلت ته سر نه ټیټوي او دوی پوهېږي چې رژیم څه ډول د امت انرژي بې ځایه لګوي او دښمن ته یې په

سپارلو سره په دردونکي عذاب اخته کوي. د مصر هغو لښکرو ته چوپ پاتې کېدل یو لوی شرم دی، چاچې صلیبیان له بیت المقدس څخه وشړل او تاتاریان یې مخکې تګ ته پرېنښودل. ایا دوی نه ویني چې د رسول الله صلی الله عیله وسلم «مسرا» د مسلمانانو تر ټولو سرسختو دښمنانو (یهودو) ته سپارل کېږي؟

باور لرو چې د امت او فلسطین پر وړاندې د شرق، غرب او اسلامي هېوادونو د واکمنانو دغه دسیسه به په اسلامي نړۍ او په ځانګړي ډول د مصر په وسلوال پوځ کې د امت د مخلصو بچیانو اسلامي جذبې را وپاروي، ترڅو دغه دولتونه له منځه یوسي او د نبوت پر تګلاره باندې دویم راشده خلافت (رښتینی خلافت) تاسیس کړي. دوی به اسلامي امت ته خپل تېر قدرت او عظمت بېرته ور په برخه کړي او له هغه عزت څخه به یې برخمن کړي، لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی د بشر لپاره تر ټولو غوره امت یاد کړی دی. همداراز د انصارو هغه میراث به را ژوندی کړي، چې الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ته یې نصرت ورکړ؛ له همدې امله الله سبحانه وتعالی په خپل سپېڅلي کتاب کې دوی په زرینو ټکو یاد کړي دي، چې د قیامت تر ورځې پورې به د خلکو په ژبو جاري وي.

**اې د الکینانه په فوځ کې د امت مخلصینو!** تاسو د الله سبحانه وتعالی په مرسته خپلو دښمنانو ته د ماتې ورکولو وړتیا لرئ، دغه ښکېلاګر کافر دولتونه په ښکاره قوي معلومېږي، خو په واقیعت کې ډېر کمزوري دي. دوی یوازې پرمختللې وسلې لري، نه زړور سرتیري. له ډارنو خلکو سره که هر ډول وسلې وي، خو د هغو عقیدوي سرتېرو پر وړاندې بیا هېڅ کار نه ورکوي، چې ولسې یې کمزورې، خو ایمانونه یې د جګړې په ډګر کې غرونه نړوي. یهودي دولت د مجاهدینو د الله اکبر د لړزونکو نارې پر وړاندې د عنکبوت له ځالې څخه هم کمزوی دی، ځکه د دوی فولادي عقیده د جګړې په ډګر کې دوی په بې سارې توګه پیاوړي کوي او په دغې برخه کې له کفارو سره هېڅ د پرتلې وړ نه دي. الله سبحانه وتعالی له تاسو سره دی او امت مو تر شا ولاړ دی، تاسو به هېڅ وخت یوازې پرې نږدي. دوی د هغې ورځې په تمه دي، چې تاسو د لا اله الا الله محمد رسول الله په کلمه سمبال بیرغونو پورته کړئ او په هغه ورځ به مومنان د الله سبحانه وتعالی د بریا خوشحالي نمانځي.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ﴾

[التوبه: ۳۸]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! په تاسو څه شوي دی چې کله تاسو ته د الله سبحانه وتعالی په لار کې د وتلو وويل شول، تاسو په ځمکه درانه کېناستلئ؟ ايا تاسو د اخرت پر وړاندې د دنيا ژوند غوره کړی دی؟ که داسې ده نو تاسو بايد په دې پوه وئ، چې د دنيوي ژوندانه ټول وسايل به په اخرت کې ډېر لږ ارزښت ولري.*

**په ولايه مصر کې د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د جمادی الثاني ٦مه**

**۲۰۲۰م کال، د فبرورۍ ۳۱مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/5**